# شتمنۍ SHTAMANI
اوونيزه

تأسيس: ۱۳۹۴ل ل

زموږ ماليه، زموږ هيواد، زموږ راتلونکی

د افغانستان اسلامي امارت

د ماليې وزارت


**له حاجي څخه دعا غوښتل**

**ژباړه:** ابن عمر رضي الله عنه روايت کوي، چي رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چي له حاجي سره مخ سئ، سلام ورته واچوئ، لاس ورکړئ او ورته ووایاست؛ چي ستاسو له پاره له الله تعالی نه مغفرت وغواړي. مخکي له دې چي خپل کور ته داخل سي؛ ځکه چي هغه ته بخښنه سوې ده.

{رواه الطبراني في الكبير، والبيهقي في شعب الإيمان}

( د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري)


د ذوالحجته الحرام ۲۴-۱٤٤٦ل س | د غبرکولي ۳۱-۱٤۰۴ل ل | د جون ۲۱-۲۰۲۵ز | پنځم کال | ۱٤۳ گڼه | ٤ مخيزه




## سرمقاله

### تأثير جنگ‌های منطقه‌ای بر اقتصاد افغانستان و ضرورت راه حل‌های پايدار

جنگ‌های منطقه‌ای به عنوان يک معضل جدی در تاريخ معاصر، تأثيرات عميق و گسترده‌ای بر کشورهای درگير و همسايگان آن‌ها داشته است. اين جنگ‌ها معمولاً به دليل رقابت‌های مذهبی، سياسی، اقتصادی و قومی بوجود می‌آيند و می‌توانند پيامدهای اجتماعی، اقتصادی و انسانی زيادی به همراه داشته باشند. افغانستان، کشوری که همواره در کانون درگيری‌ها و تنش‌های منطقه‌ای قرار داشته، جنگ‌های منطقه‌ای به کاهش سرمايه‌گذاری داخلی و خارجی منجر شده و فضايی ناامن برای کسب وکارها ايجاد کرده است. با تخريب صنايع و کسب کار ها در نتيجه‌ی جنگ، فرصت های شغلی کاهش يافته و بيکاری افزايش يافته است. از سوی ديگر جنگ های مداوم و افزايش بيکاری ناشی از آن، باعث شده که بسياری از هموطنان ما کشور را ترک کنند. در اين گونه شرايط بحرانی، تقويت ديپلماسی منطقه‌ای يک ضرورت حياتی است. ايجاد روابط قوی با کشورهای همسايه و مشارکت در مذاکرات صلح می‌تواند به کاهش تنش‌ها و ايجاد ثبات در منطقه کمک کند. همچنين، سرمايه‌گذاری در بازسازی زيرساخت‌ها و تشويق سرمايه‌گذاری‌های داخلی و خارجی، می‌تواند به بهبود وضعيت اقتصادی، افزايش وابستگی های متقابل و کاهش درگيری ها کمک کند. حمايت از بخش خصوصی و ايجاد فرصت‌های شغلی از طريق برنامه‌های حمايتی نيز می‌تواند به کاهش بيکاری و فقر کمک کند. در نهايت، سرمايه‌گذاری در آموزش و پرورش و توانمندسازی نيروی کار، کليد بهبود مهارت‌ها و افزايش اشتغال است. جنگ‌های منطقه‌ای، اقتصاد افغانستان را به شدت تحت تأثير قرار داده است، اما با اتخاذ راه‌حل‌های مناسب و همکاری‌های بين‌المللی، می‌توان به بهبود وضعيت اقتصادی و اجتماعی کشور کمک کرد. ايجاد ثبات و امنيت، تنها راه برای دستيابی به رشد و توسعه پايدار در افغانستان است. لازم است همگان به اين مهم توجه کنند و برای آينده‌ای روشن‌تر تلاش کنند. امارت اسلامی افغانستان پس از روی کار آمدن برای برقراری امنيت تلاش های بی وقفه انجام داده و اين امر را يکی از اولويت های خويش قرار داشده است. مسئولين امارت اسلامی افغانستان معتقد اند که امنيت می تواند برای جذب سرمايه گذاری و بهبود وضعيت اقتصادی کمک کند. علاوتاً امارت اسلامی افغانستان با ارائه تسهيلات و ايجاد فضای امن، سرمايه گذاران داخلی و سرمايه گذاری خارجی در بخش های مختلف اقتصادی تشويق کرده و در تلاش است تا روابط اقتصادی خود را با کشور های همسايه تقويت کند و از اين طريق به تبادل کالا و خدمات بپردازد.

**با احترام**

**اداره**

# د ماليې وزارت د پاليسۍ معين د يوناما له مشري سره وکتل






د ماليې وزارت د پاليسۍ معين انجنير سلطان محمد زبير د ملگرو ملتونو د سرمنشي له ځانگړي استازي او په افغانستان کي د يوناما له مشري روزا اوتنبايوا سره وکتل. په دغه کتنه کي دواړو لوريو په افغانستان کي د کوچنيو مالي تمويلونو سکتور پر ودي، د بهرنيو بشري مرستو پر ځای لگولو، د پراختيايي پروژو پر تمويل او له نړيوالو مالي تمويلوونکو بنسټونو سره د پراخو اړيکو پر ټينگښت خبري وکړې. د ماليې وزارت د پاليسۍ معين په افغانستان کي د يوناما له اغېزمنو بشري فعاليتونو څخه مننه وکړه او هيله ئې ښکاره کړه، چي له يوناما سره د همکاريو په پايله کي په افغانستان کي د پراختيايي پروژو پلي کولو ته زمينه برابره سي. ښاغلي زبير وويل، چي د ماليې وزارت د کوچنيو مالي تمويلونو سکتور د پرمختگ له پاره د پام وړ کار کړی دئ او هڅه مو داده، چي دغه سکتور د پراختيا ورکړو. نوموړي، د دغه سکتور د لا پياوړتيا له پاره د بشري ظرفيت لوړوني، عصري ټکنالوژۍ د رامنځته کولو او عامه پوهاوي د زياتولو په برخو کي د يوناما د همکاريو غوښتنه وکړه. په افغانستان کي د يوناما مشري د کوچنيو مالي تمويلونو سکتور د اقتصادي پياوړتيا او خلکو ته د کار موندني له پاره مهم وباله او زياته ئې کړه، چي يوناما به هڅه وکړي؛ څو د دې سکتور د پياوړتيا له پاره د مالي سرچينو پر برابرولو سربېره، د جاپان، چين، ماليزيا او اندونيزيا هيوادونو څخه د ظرفيت لوړوني او عصري ټکنالوژۍ د برابرولو په برخو کي د همکاريو غوښتنه وکړي. د يوناما مشري ډاډ ښکاره کړ، چي د ماليې له وزارت سره به په گډه د بهرنۍ پانگوني د جلب، د پراختيايي پروژو د پلي کولو، د کوچنيو مالي تمويلونو سکتور د ودي او په دې برخه کي د اړينو اسانتياوو د رامنځته کولو په موخه گډ کار کولو ته دوام ورکړي.

# له گاونډي هيواد ايران سره د افغانستان سرحدونه او گمرکونه په عادي ډول پرانيستي دي

د (۱۴۰۴هـ.ل) کال د غبرگولي په (۲۵مه) نېټه له گاونډي هيواد ايران سره د افغانستان سرحدونه او گمرکونه پرانيستي دي، گمرکي او سوداگريزي چاري له کومي ستونزي پرته په عادي ډول رواني دي. همدارنگه د ايران اسلامي جمهوريت په بندر عباس کي هم د افغانستان د سوداگريزو توکو بارگيري له کومي ستونزي پرته په عادي ډول روانه ده. د يادولو وړ ده، چي يواځي تېره ورځ د فراه ولايت د ابونصر فراهي او نيمروز ولايت او د ايران لوري گمرکونه په دغه هيواد کي د ځينو مراسمو ترسره کولو په موخه تړل سوي ول، چي بيرته پرانيستل سول او چاري ئې د پخوا په څېر مخته ځي.




# د افغانستان او روسيې ترمنځ د گډو اقتصادي همکاريو د طرحي ترتيبولو په موخه دوهمه ناسته وسوه

د افغانستان اسلامي امارت او د فدراتيفي روسيې د چارواکو ترمنځ د اقتصادي همکاريو د هر اړخيزي طرحي د جوړولو په موخه د بين‌الوزارتي مؤظفي کمېټې دوهمه ناسته د ماليې وزارت د پاليسي معينيت د همغږۍ، څارني او راپور ورکولو رياست په مشرۍ ترسره سوه. په دغه ناسته کي د افغانستان اسلامي امارت اړوندو وزارتونو او ادارو د اقتصادي همکاريو د هر اړخيزي طرحي د لومړنۍ نسخي د لا بډايه کولو په موخه هر اړخيز بحث او د تخنيکي نظرونو تبادله وسوه. همداراز د يادي کمېټې دارالانشاء ته دنده وسپارل سوه، چي د وزارتونو او امارتي ادارو وړانديزونه او نظرونه، سکتوري لومړيتوبونه راټول او يوه جامع مسوده ورڅخه جوړه او وړاندي کړي، چي وکولای سي د دوه اړخيزو گډو اقتصادي همکاريو رامنځته کولو ته لاره هواره کړي.






**برنامه آموزشی ارزيابی اجراآت کارکنان داير گرديد**


٢





**د بهرنۍ پلټني شرکتونو او د مسلکي زده کړو ښوونيزو بنسټونو ته د فعاليت جوازونه ورکول سول**


٢





**د امربالمعروف او نهي عن المنکر د قانون پلي کولو پلاوي لسمه ناسته وسوه**


٢





**تېره اوونۍ د هيواد په بېلابېلو ولايتونو کي قاچاقي توکي نيول سوي دي**


٢




**معاصر مديريت**
**(Modern Management)**


٣





**د گوادر بندر له لاري د افغانستان ټرانزيټي سوداگري وده کړې ده**


٤

# برنامه آموزشی ارزیابی اجراآت کارکنان دایر گردید

ریاست امور کارکنان وزارت مالیه به همکاری اداره اصلاحات اداری و خدمات ملکی برنامه آموزشی یک روزه ارزیابی کارکنان برای کارمندان این وزارت دایر نمود. در مراسم که به همین مناسبت در سالون کنفرانس های خیبر این وزارت برگزار گردیده بود، مولوی دوست محمد مخلص، معین اداری وزارت مالیه، شیخ مولوی محمد طاووس طارق رئیس اداره اصلاحات اداری و خدمات ملکی ریاست عمومی اداره امور و شماری از مسئولین و کارمندان این وزارت اشتراک داشتند. معین اداری در سخنان افتتاحیه این برنامه گفت، درجهان امروز کشوری راسراغ نداریم که بدون طی مراحل کسب علوم ودانش به ترقی رسیده باشد. کسب علم و دانش مسلکی برای ارائه خدمات بهتر یکی از نیاز های مبرم اداره می باشد. پس تلاش کنید با تمام توان ظرفیت و دانش مسلکی خویش را ارتقاء داده، مصدر خدمت بیشتر و بهتر به نظام و مردم شوید. رئیس اصلاحات اداری و خدمات ملکی طی سخنانش در مورد تشکیلات و کارهای این اداره معلومات داده، افزودند که ارزیابی اجراآت کارکنان یکی از مسئولیت های مسئولین است که به بهبود عملکرد اداره کمک می کند. با این کار نقاط قوت و ضعف، استعداد و توانمندی آنها شناسایی گردیده و مشکلات آینده آنها نیز رفع می گردد. در اخیر فورمه ارزیابی اجراآت کارمندان (انواع ارزیابی اجراآت، اسناد ارزیابی اجراآت، مشترکین ارزیابی اجراآت و مکلفیت های اشتراک کنندگان برنامه) طی پریزنتیشنی معلومات داده شده و به سوالات اشتراک کنندگان پاسخ ارائه گردید. برنامه با دعای خیر اختتام یافت.



# د بهرنۍ پلټنې شرکتونو او د مسلکي زده کړو ښوونیزو بنسټونو ته د فعالیت جوازونه ورکول سول

د ماليې وزارت د خزاينو لوی رياست اړوند د افغانستان د مسلکي محاسبينو اداره (CPA) چې د مسلکي محاسبينو د روزني، په دغه برخه کي د جواز ورکولو او د محاسبوي معيارونو د عملي کولو چاري ترسره کوي؛ د لومړي ځل له پاره ئې د بهرنۍ پلټنې یو شمېر شرکتونو او د مسلکي زده کړو ښوونیزو بنسټونو ته د ګړيتوب او فعاليت جوازونه ورکړل. په همدې موخه جوړه سوې غونډه کي د ماليې وزارت د پالیسۍ معين انجنير سلطان محمد زبير، د کابل پوهنتون رئيس دوکتور اسامه عزير، د مسلکي محاسبينو اداري مسئولينو او د بهرنۍ پلټنې شرکتونو او د مسلکي زده کړو ښوونيزو بنسټونو استازو ګډون کړی وو.

د ماليې وزارت د پالیسۍ معین وویل، چې د مسلکي محاسبينو اداري سره ثبت د پلټنې شرکتونو او د مسلکي زده کړو ښوونيز بنسټونه به د خلکو او حکومت ترمنځ د باور کچې په لوړلو کي مهم رول ولوبوي او د مالي چارو د بشپړي روڼتيا تضمين به وړاندي کړي.

د مسلکي محاسبينو د اداري سرپرست د دې اداري د فعالیتونو په تړاو معلومات ورکړل او زياته ئې کړه، چې مسلکي محاسبينو ته د فعاليت جواز ورکولو موخه د هيواد په مالي چارو کي د بشپړي روڼتيا رامنځته کول، د فساد له منځه وړل او مسلکي محاسبې ته وده ورکول دي. د غونډې په پای کي د بهرنۍ پلټنې (۱۷) شرکتونو او د مسلکي زده کړو (٦) ښوونيزو بنسټونو ته د ګړيتوب او فعاليت جوازونه ورکړل سول، چې دا به د رنې مالي پلټنې، مالي روڼتيا رامنځته کولو، د فساد او ملي عوايدو له تېښتې څخه د مخنيوي او د مسلکي محاسبې د منل سويو معيارونو د تطبيق په برخو کي مثبتي پايلي ولري.

# د امربالمعروف او نهي عن المنکر د قانون پلي کولو پلاوي لسمه ناسته وسوه

د عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه الله تعالی) په هدايت د امربالمعروف او نهي عن المنکر قانون د يوشان پلي کولو په موخه په وزارتونو کي خپلمنځي پلاوي ټاکل سوي دي. ماليې وزارت هم د دغه قانون د ښه پلي کولو په موخه د اداري معين مولوي دوست محمد مخلص په مشرۍ او د دغه وزارت د دعوت او ارشاد رئيس مولوي عبدالهادي سيف الخالد، د دفتر لوی رياست د اسنادو او اړيکو رئيس انجنير اديب الله محب، د کارکوونکو چارو رياست کفيل او د ګومارني آمر مفتي نياز محمد منصور او د دغه پلاوي نورو غړو په ګډون لسمه ناسته وکړه. په دغه ناسته کي د اسلام له نظره د راز ساتني پر ارزښت او په ځانګړي ډول په يوه اداره کي د راز ساتني پر څرنګوالي هر اړخيز بحث او د نظرونو تبادله وسوه. د يادوني وړ ده، چې د دغه لړۍ د لا ښه ترسراوي په موخه په هره ناسته کي د تېر مجلس د مواردو د اروزني ترڅنګ د هغوی تطبيق او تعقب هم ترسره کېږي او د راتلونکي ناستي له پاره هم يوه حياتي او مهمه موضوع ټاکل کېږي.




# د جهان (کابل) د لوړو زده کړو مؤسسې محصلينو ته د مالياتو د ډولونو په تړاو سيمينار جوړ سو

د ماليې وزارت د عوايدو لوی رياست له لوري د جهان (کابل) د لوړو زده کړو مؤسسې د غونډو په تالار کي د دغي مؤسسې محصلينو ته د مالياتو د ډولونو په تړاو سيمينار جوړ سو، چې د عوايدو لوی رياست د مالياتو کارپوه، د يادي مؤسسې استادانو، د اقتصاد او کمپيوټر ساينس پوهنځيو محصلينو ګډون پکښې کړی وو. په دې سيمينار کي د عوايدو لوی رياست د مالياتو د عامه پوهاوي کارپوه، عباد الله درمان د سيمينار ګډونوالو ته د افغانستان د مالياتي نظام، په افغانستان کي د مالياتو ډولونه، د ماليې اخيستلو پر پروسو، د اسلامي امارت له لوري په مالياتو کي د رامنځته سويو معافيتونو او تخفيفونو، د اسلامي امارت له لوري له ماليه ورکوونکو څخه اخيستل سوي ماليې د مصرف د ځايونو او د ماليه ورکوونکو د حقوقو او مکلفيتونو په اړه تفصيلي معلومات وړاندي کړل. د يادي مؤسسې رئيس حنيف الله بشار د عوايدو لوی رياست له دې اقدام څخه د منني ترڅنګ وويل، چې دا ډول سيمينارونه د محصلينو له پاره ډېر ګټور دي، محصلان د مالياتو په اړه ډېر معلومات ترلاسه کوي، چې په راتلونکي کي به له دوی سره په کاري ډګر کي ډېره مرسته وکړي. نوموړي د محصلينو د ظرفيت لوړوني له پاره د عوايدو لوی رياست څخه د ورته سيمينارونو د ډېرېدو غوښتنه کوي. د سيمينار په پای کي د مالياتو اړوند د محصلينو پوښتنو ته ځوابونه وويل سول.




# تېره اوونۍ د هيواد په بېلابېلو ولايتونو کي قاچاقي توکي نيول سوي دي




د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی رياست د ګرځنده څارني کارکوونکو تېره اوونۍ د نيمروز، کندهار او هلمند ولايتونو په بېلابېلو سيمو کي قاچاقي توکي نيولي دي، چې قاچاق کوونکو غوښتل له ګمرکي محصول پرته ئې په قاچاقي ډول افغانستان ته راوړي. په نيول سويو توکو کي (٦٦٩٥) کيلو ګرامه چاکليټ، (۲۱٦٦) کيلو ګرامه انساني طبي درمل، (۱۷۳۸۰) کيلو ګرامه مالګه، (۳۴۱۰) کيلو ګرامه تشي بوجۍ، (۹۲۳) کيلو ګرامه نوې البسه او (۱۸۰) کيلو ګرامه شامپو شامله ده. نيول سوي توکي او تورن کسان د نورو اجراآتو له پاره اړوندو ګمرکونو ته سپارل سوي دي. د يادوني وړ ده، چې د ماليې وزارت د ګرځنده څارني کارکوونکي په ټول هيواد کي ګرځنده څارنه کوي او هيچا ته اجازه نه ورکوي، چې ممنوعه او قاچاقي توکي ولېږدوي.

# جلو گیری از آتش سوزی بزرگ در گمرک نیمروز



بر اثر رسیدگی به موقع کارمندان قطعه تنفیذی محافظت و عملیات خاص گمرك نیمروز و در نتیجه تلاش مؤثر تیم اطفایه، یک عراده موتر باربری کانتینری که به سبب شارتی برق آتش گرفته بود از گسترش آتش سوزی در این ساحه جلوگیری به عمل آمد که بدین وسیله از خسارات مالی احتمالی به اندازه یک میلیارد افغانی نیز محافظت گردید. قابل ذکر است، که آتش سوزی در محوطه پارکینگ موترها رخ داده بود، که در نتیجه جلوگیری به موقع، از سایر وسایط باربری و تأسیسات نیز از هرگونه خسارات و زیان مالی محافظت گردید.



شتمنی SHTAMANI
اوونیزه

# معاصر مدیریت
# (Modern Management)

استاد عبدالجبار وحدت
د مالیې وزارت د ملي بودیجې لوی رئیس

په عام شکل د دودیز مدیریت له مفهوم سره موږ او تاسي ټول بلد یو، چې په کم وخت او کمو منابعو سره د زیاتو کړنو تر سره کول، یا هغه پروسه ده، چې هدف ته د رسېدو په موخه انساني، فزیکي او مالي منابع منسجمي کوي، یا داسي هم ویلای سو، چې د خپلو کارونو تر سره کول د بل چا په واسطه چې دا وروستی تعریف تر ډېره د نقد وړ دئ. راځم اصل موضوع ته، نن عصر چې د مصنوعي ځیرکتیا او ټکنالوژۍ اصل دئ، هر څه تغییر سوي دي او مدیریت هم باید له خپل لومړي پړاو څخه مخته ولاړ سي، که داسي ونه سي، د ادارو، سازمانونو او حتی نظامونو بقاء ستونزمنه کېږي. معاصر مدیریت یو نوی فکر او دید دئ، چې د (۲۰مي) پېړۍ په وروستیو کي رامنځته سو. ټایلر هنري فایول او وېبر، دې تیوري ته زیات کار وکړ، د نړیوالتوب، ټکنالوژیکي پرمختګ او د عصر د بدلونونو په اساس د معاصر مدیریت اړتیا تر بل هر وخت زیاته محسوس سوه. معاصر مدیریت یو متحریک مفهوم دئ، چې د مدیریت د معاصرو میتودونو په مټ د ادارو د اهدافو تر لاسه کولو له پاره له اکاډمیکي پلان جوړوني، ستراتیژیک تفکر، نوي تیکنالوژۍ او سرچینو د درست مدیریت کولو په مټ په خپل ټول توان د موخو د تحقق له پاره کار کوي او د دودیز مدیریت برعکس ځانته محورونه او روښونه لري. د اداري بقاء، انعطاف، نوښتونو، ټکنالوژیکي ودي، نویو سیستمونو، نویو




مفکورو، د ارزښتونو ساتني، ستراتیژیکو اهدافو او په ځانګړي ډول د بشري ځواک پرمختګ ته خاصه پاملرنه کوي. معاصر مدیریت په خپل ټول توان هڅه کوي، چې په ادارو کي بېروکراسي تر ډېره حده کمه او یا ختمه کړي، کوښښ ئې دا دئ، چې پروسې اسانه او لنډې کړي او نوي نوښتونه رامنځته کړي، د مامورینو فکري جمود له منځه یوسي او په اداره کي نوښتګره فضاء حاکمه کړي او کوښښ دا کوي، چې په اداره کي یوه ښه علمي او انعطاف منونکې رهبري او له همکارانو سره په مشورو ولاړه مشارکتي رهبري (Participative (Leadership رامنځته کړي او اداره د سختو چلنجونو، خنډونو، تحریمونو او اقتصادي نوساناتو پر مهال له بحراني حالت څخه راوباسي.

د معاصر مدیریت د SWOT لنډ تحلیل: دلته زه تفصیلي بحث ته نه ځم، له موزون ضریبونو څخه ګټه نه ده پورته سوې، په څلورو محوري اړخونو باندي لنډ بحث کوم.




## معاصر مدیریت ته اړتیا:

په اوسني عصر کي د دوامداره او چټکو بدلونونو له امله اداري اړې دي، چې د عصر له نویو مقتضیاتو سره ځانونه عیار کړي او د دودیز مدیریت څخه تېر سي، پر ځای ئې د نوي مدیریت نوي مېتودونه تعقیب کړي. نن ورځ بازار بشپړ رقابتي دئ، همدارنګه د کاروبارونو عمرونه کم وي، زیاتره اداري او سازمانونه که غواړي، چې د ډېر وخت له پاره ژوندي پاتي سي اړتیا ده، چې د معاصر مدیریت ټول اصول او کړنلاري تطبیق کړي او د عصر له غوښتنو سره سم مدیریتي چلند او سبک وټاکي.

## د معاصر مدیریت ځانګړني:

- مشارکتي رهبري
- ګروپي کار
- ارزښت محوري
- خلاقیتونه/نوښتونه
- نتیجه محوره تفکر
- فکري جمود ختمول
- دقت، سرعت او معلوماتو ته پراخ لاسرسی
- د پروسو اسانتیا

په معاصر مدیریت کي له نوي تیکنالوژۍ څخه په پراخه کچه کار اخیستل کېږي، په ځانګړي ډول د(AI) یا مصنوعي ځیرکتیا په مټ ډېری چاري منسجم کېږي او د ځانګړو الګوریتمونو په مټ ځیني تصورات تصویروي او چټک تصمیمونه نیسي.

.

# اعلانات داوطلبی

## دعوت به داوطلبی

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تادر داوطلبی پروژهء ) پروژه ترمیمات دفاتر مدیریت عمومی حوزه ۱۷ مالیاتی) دارای نمبر تشخیصیه ١٤٠٤/MOF/ ۱٦۱۹-NCB/W که به روش داوطلبی باز داخلی صورت میگیرد اشتراك نموده و شرطنامه را به لسان پشتو و دری از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء میگردد بدست آرند.

جلسه قبل از آفرگشایی: تاریخ ۲۹/ جوزا /١٤٠٤ ساعت ۱۱:۰۰ قبل از ظهر میباشد.

تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ۰۸/سرطان/١٤٠٤ ساعت ۰۲:۰۰ بعد از ظهر میباشد.

تضمین آفر : به مبلغ ۲۰۰،۰۰۰ (دو صد هزار) افغانی میباشد.

آدرس: سایت رسمی اداره تدارکات ملی (https://tenders.ageops.af)، ریاست محترم عمومی اداره امور ١.١.١

شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۱٥٦

آفرهای دیر رسیده و انترنتی پذیرفته نمیشود

## تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تاسی از ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشود، اینکه وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان درنظردارد، پروژه ( ترمیم و فعال نمودن ۴ باب سردخانه در گمرکات ولایت هرات، نیمروز، خوست و ننگرهار، دارای نمبرتشخیصه ١٤٢٢-NCB/W/١٤٠٤/MOF را با شرکت نوی عزت لمیتد به قیمت مجموعی مبلغ ٦۰۰, ۹٤۸, ٤ (چهار میلیون نوصدو چهل و هشت هزارو ششصد) افغانی عقد قرارداد نماید. اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض درزمینه داشته باشند میتوانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی ۷ روز تقویمی طور کتبی توام با دلایل آن به وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان واقع پشتونستان وات -کابل ارائه نماید این اطلاعیه به معنی عقدقرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

آدرس : وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان –ریاست تدارکات،آمریت تدارکات- مشاوریت تدارکات منزل دوم معینیت اداری.

## دعوت به داوطلبی

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تادر داوطلبی پروژهء(پروژه تهیه بالون های مختلف النوع ضد حریق برای گمرك ولایات) دارای نمبرتشخیصیه NCB/G/١٤٠٤/MOF-۱٦۱۸ که به روش داوطلبی باز صورت میگیرد اشتراك نموده و شرطنامه را به لسان دری و پشتو از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه ، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء میگردد بدست آرند.

تاریخ مشخص جلسه قبل از داوطلبی: تاریخ ۲٦/جوزا/١٤٠٤ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.

تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ۰۸/سرطان/١٤٠٤ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.

تضمین آفر : به مبلغ ۳۹,۰۰۰ (سی و نه هزار) افغانی میباشد.

آدرس: سایت رسمی اداره تدارکات ملی، ریاست محترم عمومی اداره امور ١.١.١ (https://tenders.ageops.af)

شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۱٥٦

آفرهای دیر رسیده و انترنتی پذیرفته نمی شود

## اعلان داوطلبی

ریاست عمومی املاک امارتی وزارت مالیه (۸) باب دوکاکین و یک باب موترشوئی واقع سمت جنوب دروازه نساجی بگرامی جوار سرک عمومی مربوط ناحیه (۱٦) شهر کابل را به شکل آفر سربسته طور جداگانه به اعلان داوطلبی می سپارد، مدت(۲) سال.

۱-یک باب دوکان نمبر ۱ به مساحت (۲۱,۱۲) مترمربع واقع سمت جنوب دروازه نساجی بگرامی جوار سرک عمومی مربوط ناحیه ۱٦ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ۸۰۰۰) افغانی.

۲-یک باب دوکان نمبر ۲ به مساحت ٤٥,۲٤ مترمربع واقع سمت جنوب دروازه نساجی بگرامی جوار سرک عمومی مربوط ناحیه ۱٦ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ۹۰۰۰) افغانی.

۳-یک باب دوکان نمبر ۳ به مساحت ۳۷,۱۲ مترمربع واقع سمت جنوب دروازه نساجی بگرامی جوار سرک عمومی مربوط ناحیه ۱٦ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ۸۰۰۰) افغانی.

۴-یک باب دوکان نمبر ٤ به مساحت ۳۷,۱۲ مترمربع واقع سمت دروازه نساجی بگرامی جوار سرک عمومی مربوط ناحیه ۱٦ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ۱۲۰۰۰) افغانی.

۵-یک باب دوکان نمبر ٥ به مساحت ۳۷,۱۲ مترمربع واقع سمت دروزاه نساجی بگرامی جوار سرک عمومی مربوط ناحیه ۱٦ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ۸۰۰۰) افغانی.

٦-یک باب دوکان نمبر ٦ به مساحت ۳۹,٤٤ مترمربع واقع سمت جنوب دروازه نساجی بگرامی جوار سرک عمومی مربوط ناحیه ۱٦ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ۱۱۰۰۰) افغانی.

۷-یک باب دوکان نمبر۷ به مساحت ۳۹,٤٤ مترمربع واقع سمت جنوب دروازه نساجی بگرامی جوار سرک عمومی مربوط ناحیه ۱٦ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهان مبلغ(۱۱۰۰۰) افغانی.

۸-یک باب دوکان نمبر۸ به مساحت ٤۰,٦۰ مترمربع واقع سمت جنوب دروازه نساجی بگرامی جوار سرک عمومی مربوط ناحیه ۱٦ شهر کابل به کرایه ابتدئی ماهانه مبلغ ( ۱٥۰۰۰) افغانی.

۹-موترشوئی به مساحت۲۷٥,۳٦ مترمربع واقع سمت جنوب دروازه نساجی بگرامی جوار سرک عمومی مربوط ناحیه ۱٦ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(٤٤۸۰۰) افغانی.

کوردینات (جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۲٤۷۲٥٥٤۹ - ۳٤,٥۰۳۷۳۲٦٦

اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایداد های فوق الذکر را باشند میتوانند درخواست های شان را از تاریخ ۱٥/ ۳/ ۱۴۰۴ الی ٥/ ۴/ ۱۴۰۴ به مدت (۲۱) روز به ریاست عمومی املاک امارتی تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند.

آدرس :سینما پامیرتعمیر١٤منزله ،منزل٥، مدیریت عمومی ارزیابی قرار دادهای مرکز.

شماره تماس-۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤ - ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷)

تاریخ مجلس داوطلبی: ۷/ سرطان / ۱۴۰۴ به ساعت(۱۰:۰۰) قبل از ظهر برگزار میگردد

شتمني
SHTAMANI
اوونیزه
زموږ مالیه، زموږ هیواد، زموږ راتلونکی

د امتیاز څښتن: د ماليې وزارت
مسئول مدير: احمد ولي حقمل
مرستیال: شمس الدين عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندي

ویبسایټ: mof.gov.af
اېکسپانه: Afghanistan mof
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)

د ذوالحجته الحرام ۲۴ -۱٤٤٦ل س | د غبرګولي ۳۱ -۱٤۰۴ل ل | د جون ۲۱-۲۰۲۵ز | پنځم کال | ۱٤۳ ګڼه | ٤ مخيزه | ۴



## MoF as Flagship

# ‘Inter-Ministerial Task Force Committee’ Holds 2nd Meeting to Draft Comprehensive Plan for Joint Economic Cooperation Between Afghanistan, Russia

The second meeting of the ‘Inter-Ministerial Task Force Committee’ to prepare a comprehensive plan for economic cooperation between the IEA (Islamic Emirate of Afghanistan) and the Russian Federation was held under the chairmanship of the ‘Coordination, Monitoring and Reporting Directorate’ of the DM for Policy of MoF. In this meeting, in-depth discussion and exchange of technical opinions were held to further enrich the first draft of the comprehensive plan for economic cooperation between the IEA-run ministries and bodies. Additionally, the secretariat of the aforementioned committee was entrusted with collecting the proposals and opinions, sectorial priorities of the ministries and IEA-run bodies, and preparing and presenting an inclusive draft that could pave the way for the establishment of bilateral joint economic cooperation.







# Afghanistan's Borders, Customs with Neighboring Iran Reopened; ‘Business Flows Customarily’ – Officials

Afghanistan's borders and customs with neighboring Iran have been reopened. Customs and trade are proceeding normally without any problems. Meanwhile, the loading of Afghan trade goods at Bandar Abbas port of the Islamic Republic of Iran is proceeding normally without any problems. Notably, only for a day the customs of Abu Nasr Farahi of Farah province and Nimroz province, and the Iranian side were closed for some ceremonies in Iranian territory, but they have been reopened and their operations are proceeding as before.







# د ګوادر بندر له لاري د افغانستان ترانزیتي سوداګری وده کړې ده






د نېشن ـ THE NATION پـه نوم پاکستانۍ رسـنۍ پـه راپـور کـي راځـي، چـي د بلوچستان پـه سوېل کـي د ګـوادر بنـدر لـه لاري د افغـان ترانزیتـي سـوداګرۍ وده کـړې ده او وايـي دا پرمختـګ د سـیمه ییـز اتصـال او اقتصـادي ادغـام پـر خـوا یـو مهـم ګام دئ، چـي د یـاد سـمندري بنـدر پـه مرسـته نړیوالـو بازارونـو تـه د افغانسـتان لاسرسـی زیاتـوي.

راپـور د ترانزیـټ تاریخچې تـه پـه کتـو سره زیاتـوي، چـي ګـوادر بنـدر د لومـړي ځـل لـه پـاره د افغانسـتان ـ پاکسـتان ترانزیتـي سـوداګرۍ تـړون ـ APTTA ۲۰۱۰ تـر چـتر لانـدي پـه (اپرېـل/ ۲۰۲۰)ز کـي د افغانسـتان د ترانزیتـي سـوداګرۍ لـه پـاره فعـال سـو.

ورپسـې د افغانسـتان او پاکسـتان تـر منـځ د صادراتـو ډېرښـت او سـلني تـه هـم اشـاره کـوي. د (۲۰۲٤ ـ ۲۰۲۵)ز مـالي کال د جولای او اپرېـل ترمنـځ افغانسـتان تـه پاکسـتاني صـادرات (۱,۱۳۸) میلیـارډه ډالـرو تـه لـوړ سـول، چـي د پروسـږکال پـه پرتلـه د ٪(۳۱) زیاتـوالي معنـی ښـندي؛ لاکـن د پاکسـتان د سـوداګرۍ پراختیـا اداري ـ TDAP پـه حوالـه اسـتناد کـوي، چـي وایـي پاکسـتان تـه افغـاني صـادرات بیـا ٪(۱٤) لـوړ سـوي دي، چـي د نغـدو لـه قـراره (۵۵۷) میلیونـه امریکایـي ډالـره کېـږي.

راپـور د کارپوهانـو پـه حوالـه زیاتـوي، چـي ګـوادر چمـن تـه د «کراچي ــ تورخـم» پـه پرتلـه نیـږدې او لـه ګڼـي ګوڼـي پـه امـن دئ،دچـي وخـت او لګښـت دواړه پـه کښـې خونـدي دي.

پاکسـتاني حکومـت د ګـوادر لـه لاري د افغانسـتان پـه ترانزیتـي سـوداګرۍ کـي د لویـو بـار وړونکـو توکـو لـه پـاره «بانکـي تضمیـن» پـه «بیمـه تضمیـن» سره واړاوه.

راپـور تحلیـل کـوي، چـي وایـي دا اقـدام پـه ځانګـړي ډول د ډای ـ امونیـم فاسـفیټ امبـارو/ سرو، غنمـو، بـورې او نـورو اړینـو توکـو وارداتـو تـه ګټـه رسـوي.

د نېشـن پـه نـوم رسـنۍ نـه یـوازي د کارپوهانـو لـه ادرسـه د دې ترانزیتـي لاري سـتاینه کـوي؛ بلکـي پـه افغانسـتان کـي د پاکسـتان ځانګـړي اسـتازي ښـاغلي محمـد صـادق پـر خپلـه رسـمي اېکسـپانه هـم دا اقـدام مثبـت ارزولـی وو او ویـلي ئـې دي: "دا اقـدام بـه د افغانسـتان لـه سـوداګریزي تولنـي سره مرسـته وکړي."


## د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست تل ستاسو په خدمت کي دئ!

که تاسو د ګمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتیا لرئ او د کومي ستونزي حل او یا شکایت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندي شمېره اړیکه ونیسئ!

اړیکه: ۲۲۱

## ریاست عمومی ګمرکات وزارت مالیه همیشه در خدمت شماست!

اګر شما در مورد ګمرکات به هر نوع معلومات نیاز دارید و یا میخواهید مشکل تان حل و شکایت تانرا به سمع ما برسانید، میتوانید به شماره ذیل با ما در تماس شوید!

تماس: ۲۲۱



## د شکایتونو اورېدلو آمریت ستاسو ستونزو او شکایتونو ته رسېدنه کوي

هـر هیـوادوال، چـي د ماليـې وزارت د اړونـد چـارو پـه تـړاو سـتونزه یـا شـکایت ولـري، کولای سي، چـي د دغـه وزارت د شـکایتونو اورېدلـو لـه خپلـواک آمریـت سره ئـې پـه حضـوري بڼـه او یـا د لانـدي ادرسـونو لـه لاري شریـک کـړي.

ټیلیفون او وټس اپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۲۳۳ /۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰ /۰۷۴۵۷٦۵۷۵٦ (+۹۳)

برېښنالیک: officialcomplaints@mof.gov.af